شــهروندان شــهر هرات می‌توانند در صورت بروز هرگونه مشکل مرتبط با پاک‌کاری، انسداد کانال‌ها و جویچه‌ها و یا آب‌گرفتگی معابر شــهری، به‌گونه شبانه‌روزی با مسئوولان بخش مربوطه این اداره از طریق شماره‌های ذیل به تماس شوند:

۰۷۹۲۶۰۸۷۱۲ — مدیرعمومی تنظیف شاروالی
۰۷۸۰۳۵۸۴۱۶ — مدیریت تنظیف شاروالی
۰۷۹۷۵۱۷۳۰۰_ مأموریت تنظیف شاروالی
مدیر تنظیف ناحیه اول: ۰۷۹۶۵۷۴۰۰۰
مدیر تنظیف ناحیه دوم: ۰۷۹۶۱۸۵۹۵۸
مدیر تنظیف ناحیه سوم: ۰۷۹۹۴۱۷۹۵۵
مدیر تنظیف ناحیه چهارم: ۰۷۹۱۳۱۰۵۵۳
مدیر تنظیف ناحیه پنجم: ۰۷۹۰۴۳۴۳۷۷
مدیر تنظیف ناحیه ششم: ۰۷۹۴۵۱۲۱۵۲
مدیر تنظیف ناحیه هفتم:۰۷۹۷۳۸۵۸۵۴
مدیر تنظیف ناحیه هشتم: ۰۷۹۲۹۸۰۰۹۸
مدیر تنظیف ناحیه نهم: ۰۷۹۰۱۸۵۹۴۹
مدیر تنظیف ناحیه دهم: ۰۷۹۰۶۰۸۹۰۸
مدیر تنظیف ناحیه یازدهم: ۰۷۹۹۶۵۲۷۶۵
مدیر تنظیف ناحیه دوازدهم: ۰۷۹۶۴۸۱۸۷۲
مدیر تنظیف ناحیه سیزدهم: ۰۷۹۰۶۰۹۴۹۰
مدیر تنظیف ناحیه چهاردهم: ۰۷۹۵۱۷۱۷۸۹
مدیر تنظیف ناحیه پانزدهم: ۰۷۹۸۳۴۰۹۰۰

شــاروالی هرات ضمن قدردانــی از همکاری مداوم شهروندان، بار دیگر از عموم شهروندان این شهر می‌خواهد تا در راســتای حفظ نظم، پاکی و صفای شهر با این اداره همکاری همه‌جانبه داشته باشند.

هرات ولایت

د سپین‌بولدک ښاروالۍ د تنظیف پرسونل د باراني اوبو له امله بندې شــوې ویالې او سړکونه پاکوي. د دربیم، اتلسم او پنځلســم ګذرونو اړوند کارونه په چټکۍ سره روان دي. ښاروالۍ له ښاریانو غوښتنه کوې چې د پاکوالي په ساتلو کې همکاري وکړي.



کندهار
٦٤

د ننګرهار خوږیانو ښاروالۍ د سیلاب له امله تخریب شوي سړکونه بیرته ورغول او د چمتلي ښارګوټي مارکېټونو ته د اوبو د رسېدو مخنیوي لپاره نوې ویاله جوړه کړه. اوس سړکونه او مارکېټونه د سیلاب له زیان څخه خوندي دي.



ننګرهار ۶۵

د کونړ اسعداباد ښاروالۍ له لوري مسلخ څخه نظارت ترسره شو. قصابانو ته لارښوونه وشوه چې یوازې وروسته له صحي معاینې او تاپه کولو، غوښه د پلور لپاره مارکېټ ته وړاندې کړي. د نظارت هدف باکیفیته او صحي غوښه خلکو ته رسېدل دي.



کونړ ۶۶

## د اسعداباد ښاروالۍ خبرتیا!

د کونړ اسعداباد ښاروالۍ له لوري د اشتهاري بیلبوردونو قرارداد چې په ۱۴۰۵/۱/۸ نېټه یې د ښاروالۍ د غونډو په تالار کې داوطلبي ترسره شوې وه، ټول هغه شرکتونو ته چې په دواطلبۍ کې یې ګډون کړی وو، خبر ورکول کېږي چې په راتلونکې اوه کاري ورځو کې د اسعداباد ښاروالۍ ریاست د عوایدو مدیریت ته حاضر شي ترڅو قرارداد عقد شي.

کونړ ولایت

تیم‌های تنظیف و سرسبزی شهرداری ولسوالی انجیل ولایت هرات به همراه وکلای گذر، در تمام نواحی سه‌گانه به‌صورت شبانه‌روزی و با تلاشی صادقانه، در حال خدمت‌رسانی به اهالی منطقه هستند؛ بخصوص در این روزها که با بارش باران‌های موسمی همراه است.

هرات ۶۷

د کونړ اسعداباد ښار کې د ورښتونو وروسته د عمومي او فرعي لارو د پاکولو چارې روانې دي. د دوهمې ناحیې دریم ګذر کې له سړکونو خاورې او تیږې پاکې شوې او دا لړۍ به نورو زیانمنو سیمو ته هم وغځول شي.



کونړ ۶۸

مهترلام ښار کې د پارکونو او شنو ساحو د ساتنې لپاره د دواپاشۍ چارې پیل شوې. دا ګام د ونو، بوټو، ګلانو او چمنونو د امراضو او زیان رسوونکو حشراتو د مخنیوي لپاره اخیستل شوی، ترڅو شنې ساحې خوندي او ښار ښکلی پاتې شي.



لغمان ۶۹

د جلال‌اباد ښاروالۍ مرستیال حافظ نور محمد بدر ووېل چې د عمر لرونکو تنظیفاتي کارکوونکو لپاره به د رهبرۍ د پرېکړې پر بنسټ له درنو او ساحوي کارونو څخه داخلي شعباتو ته انتقال وشي. دا اقدام د انساني کرامت، درناوي او غوره کاري چاپېریال برابرولو لپاره دی، ترڅو کارکوونکي وکولای شي په مناسبو شرایطو کې خپلو خدمتونو ته دوام ورکړي.



ننګرهار ۷۰

تیم تنظیم مارکیت‌های ریاست شاروالی مزارشریف با تلاش‌های دوامدار برنامه‌های ساحات چوک مندوی و سره میاشت را پاک‌کاری نمودند.

بلخ ۷۱

## ریاست شاروالی شهر چاریکار

ریاست شاروالی شهر چاریکار به منظور تحقق اهداف عالی ا.ا.ا و ایجاد اداره سالم در نظردارد یک بست کمبود خود را بخاطر استخدام افراد شایسته، کارفهم و سپردن کار به اهل کار از طریق رقابت آزاد به اساس سیستم جدید رتب و معاش قرار دهد.

بنابرین به آن‌عده اشخاص واجد شرایط که تابعیت افغانستان را داشته باشند رسانیده می‌شود که خود را در بست متذکره کاندیدا نمایند:

عنوان بست:

مدیر عمومی تخنیکی و مسلکی ، بست ۴

تاریخ شروع : ۱۹/۱/۱۴۰۵

تاریخ ختم : ۲۹/۱/۱۴۰۵

هدف: تنظیم امور خدمات تخنیکی و مسلکی با سکتورهای خصوصی و برنامه‌های انکشاف شهری جهت عرضه خدمات بهتر شاروالی به شهروندان .

شرایط استخدام: تابعیت افغانستان داشته باشد، سن از ۱۸ بیشتر و از ٦٤ کمتر باشد.

سند تحصیلی: مطابق به لایحه وظایف.

تجربه کاری: چهارسال مرتبط به وظیفه نظر به لزوم‌دید اداره.

مهارت‌های دیگر: تسلط به یکی از زبان‌های رسمی کشور (دری یا پشتو ).

به تمام واجدان شرایط که تابعیت افغانستان داشته باشند رسانیده می‌شود که از تاریخ ۱۹/۱/۱۴۰۵ تا ۲۹/۱/۱۴۰۵ به مدت ده روز، می توانند فورم‌های درخواستی را از ساعت ۸:۰۰ صبح تا ۴:۰۰ بعد از چاشت از مدیریت امورکارکنان شاروالی چاریکار یا از آمریت اصلاحات اداری و خدمات ملکی ولایت پروان اخذ و بعد از خانه‌پُری دوباره به این ادارات تسلیم نمایند.

درصورت ضرورت به شماره ( ۰۷۰۲۰۵۰٦۲۰ ) تماس گرفته و حل مطلب نمایند.

- بعد از ختم میعاد، فورم توزیع نمی‌گردد.

- تاریخ امتحان بعد از بررسی مقدماتی اطلاع داده میشود.

پروان ولایت

تیم انضباط شهری ریاست شاروالی سرپل به منظور ایجاد نظم بهتر شهر همه‌روزه به‌گونه منظم و مطابق با پلان ترتیب‌شده تنظیم مارکیت‌ها، ساحات داخل شهر تنظیم و پیاده‌روها را نیز به‌گونه منظم پاکسازی می‌کند.

سرپل ۷۲

## د خوست ښاروال په مشرۍ اداري مجلس نوبتي ناسته ترسره شوه



خوست ۷۳

د خوست ښاروال په مشرۍ اداري مجلس نوبتي ناسته ترسره شوهد خوست ښاروال الحاج حافظ عبدالرشيد عمري د اداري ناستې په پيل کې د کارکوونکو کړنې وستايلې او د ستونزو د حل لپاره يې د منظمو ناستو پر اهميت ټينګار وکړ. نوموړي د همکارۍ، اطاعت او تقوا ارزښتونه مهم وبلل او ويې ويل چې د الهي احکامو پيروي د چارو په سمون او د ولس د حقونو په ادا کې بنسټيز رول لري. همداراز د ناحيو مديرانو ته سپارښتنه وشوه چې خپلې دندې په مسؤليت ترسره کړي او د تنظيف ټيمونه دې ۲۴ ساعته چمتو وي.

ورپسې د تېر اداري مجلس د موضوعاتو راپور شريک شو، او په نويو موضوعاتو کې د درېيمې او څلورمې ربعې د تېرو کړنو د معلوماتو شريکولو ناستې نېټه، د ښاروالۍ په ملکيتونو کې د خالي دوکانونو او غرفو موضوع، د پروژې له پله تر زاړې سبزۍ منډايۍ پورې د غرفو د ځای بدلون او عصري بڼه جوړول، د دوکاندارانو د لوحو تنظيم او عصري کول، او همدارنګه د کاروان سرای په ساحه کې د موجوده سړک د پراخوالي په اړه بحث او پرېکړې وشوې. سربېره پر دې، د ځينو موضوعاتو د تعقيب لپاره ځانګړې هيئت هم وټاکل شول. د يادونې وړ ده چې د خوست ښاروالۍ اداري ناستې هر ۱۵ ورځې وروسته ترسره کېږي.

## د مهترلام ښاروالۍ د يو مارکيټ چې د لغمان ولايت د کليو او پراختيا رياست جنوب خوا ته موقيعت لري، د لومړۍ او دويمې برخې مزايدې يې ترسره شوې

د ياد مارکيټ د لومړۍ برخې داوطلبي چې د ښاروالۍ د تعين شوې کمېټې په حضور کې د ۴ داوطلبانو ترمنځ ترسره شوه، خسرو د عبدالصبور زوی د مياشتې ۴۵ زره ۳۵۰ افغانۍ لوړ نرخورکولو سره ګټونکی شو.

همداراز د ياد مارکيټ دويمې برخې مزايده د ۳ داوطلبانو ترمنځ ترسره شوه چې عبدالناصر ولد خال محمد د مياشتې ۱٦ زره ۷۵۰ افغانۍ لوړ نرخ ورکولو سره ګټونکی وشمېرل شو.

که هر څوک په ياده مزايده نيوکه يا هم اعتراض لري کولای شي له ۱۷ تاريخ څخه تر ۷ ورځو پورې خپل اعتراض په ليکلي بڼه د مهترلام ښاروالۍ تدارکاتو مديريت ته وسپاري.

لغمان ۷۴

## د پلخمري ښاروال په مشرۍ، غونډه د عمومي مديريتونو او حکومتدارۍ اړوندو څانګو امريتونو په ګډون د غونډو په تالار کې ترسره شوه



خوست ۷۵

ښاروال د غونډې د پرانيستې پر مهال د لاندې موضوعاتو په اړه خبرې وکړې: ښاروالۍ د نورو ادارو په پرتله د خلکو د خدمت په برخه کې غوره اداره ده او د خلکو سترګې او غوږونه بلل کېږي، ځکه چې د خلکو ډېرې اړيکې او اړتياوې له دې ادارې سره تړلې دي. نو ستاسو د کارکوونکو او مامورينو ژمنتيا او دندو ته پابندي ډېره مهمه ده، ترڅو د لا ښې همغږۍ له لارې د خلکو د خدمت په برخه کې خپل مسؤليتونه په ښه توګه ترسره کړئ.

وروسته د اجنډا مطابق د الکترونيکي حاضري له مخې د کاري وختونو په اړه بحث او د نظرونه تبادله وشوه.

همدارنګه د ازاد بحث په برخه کې نور هغه اداري موارد چې مشورې او پرېکړې ته اړتيا لرله، مطرح او وڅېړل شول.

## د لښکرګاه ښاروالۍ خبرتيا!

لښکرګاه ښاروالۍ هوډ لري خپل اړوند ملکيت د اولې ناحيې شنې ساحې (شنه کمربند) ته څيرمه د وسايطو پارکينګ د ازادي داوطلبۍ له لارې د قرارداد په توګه په کرايه ورکړي.

هر هغه څوک چې د کرايې د قرارداد غوښتنه ولري، خپل غوښتنليکونه دې د اعلان د نشر نېټې څخه د ۲۱ ورځو په موده کې د لښکرګاه ښاروالۍ اړوند د املاکو مديريت ته وسپاري او خپله دې د داوطلبۍ په مجلس کې د ګډون لپاره (۵/۲/۱٤۰۵) نېټه د ښاروالۍ ته د سهار ۱۰:۰ بجو حاضر شي.

نوټ: په داوطلبۍ کې د ګډون لپاره د تضمين پيسې سل زره ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ نغدي اخيستل کېږي.

هلمند ولايت

## د مهترلام ښاروال په مشرۍ د ښاروالۍ له امرينو او مديرانو سره نوبتي اداري ناسته ترسره شوه چې په ناسته کې د ښاروال له لوري د کارونو پر شفافيت او د مراجعينو ستونزو ته په وخت رسيدنې ټينګار وشو.

په ناسته کې ښاروال ګډونوال خپلو مسؤليتونو ته متوجه کړل او له امرينو او مديرانو يې وغوښتل، چې د ښه همغږۍ له مخې خپلې چارې په منظم او مؤثر ډول ترسره کړي، د مراجعينو ستونزو ته په وخت رسيدنه وشي څو ښاريانو ته غوره خدمات وړاندې شي.

د مجلس په پای کې د ښاروال له لوري يو شمېر امرينو او مديرانو ته مشخصې دندې وسپارل شوې، څو تر راتلونکې اداري ناستې پورې د ترسره شوو کارونو راپور د ښاروالۍ له مقام سره شريک کړي.

لغمان ۷۵

## د جلال‌باد ښاروالۍ د تنظيف او زرغونتيا امريت تر چتر لاندې د تنظيف ۴۰۰ کارکوونکي او وسايط د ښار له بېلابېلو برخو څخه هره ورځ ٦۵۰ متره مکعب کثافات راټولوي او مناسبو ځايونو ته يې انتقالوي. د ويالو پاک ساتل د اوبو د بنديدو مخنيوي، سالم چاپيريال برابرول، د ناروغيو مخنيوي او ښاريانو د هوساينې په موخه ترسره کېږي.



ننګرهار ۷۷

## د ننګرهار غني‌خېلو ښاروالۍ په تالار کې د ښاروالۍ ملکيت مارکو بازار فرش ساحه کې د قصابۍ مسلخ چې د ګډ هيئت په خضور کې داوطلبۍ ترسره شوه، پکې مصطفي د ۴۸۰۰۰ زره افغانيو په ارزښت د ياد هيئت له لوري ګټونکي اعلان شو چې د تدارکاتو قانون مطابق له مخې به د ولايت مقام د ارزيابۍ کميټې د تييد وروستي اجراات صورت نيسي.




ننګرهار ۷۸

د هلمند گرشک ښــاروال په هدایت د نوزاد رود زیانمنه څنډه د خلکو د خوندیتوب لپاره خوندي شوه. هغه برخې چې زیانمنې وې وتړل شــوې، اوس خلک کولی شي په ډاډ سره تگ راتگ وکړي. سیمه به د راتلونکو اورښتونو پر مهال دوامداره څارل کېږي.



هلمند 79

د کونړ اسعداباد ښــاروالۍ په دوهمه ناحیه کې د پاتې کثافاتو پاکوالی بشپړ کړ. جامد او مایع کثافات پر وخت راټول او د دفن ځای ته انتقال شــول. ښــاروالۍ هڅه کوي د ښار ټولې برخې پاکې او زرغونې وساتي.



کونړ 80

د لښکرگاه ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ امریت د تمثیلي ښاروالیو له لوري په مدارسو او ښوونځیو کې د لښکرگاه ښــاروالۍ لهخوا ورکړل شــوي څه باندې ۲۸۰ نیالگي کښېنول شول.
د ځروبولو او زرغونتیا امریــت د معلوماتو له مخې: څه باندې ۲۸۰ مختلفو نوعه مثمر او غیر مثمر نیالگي مو د فرهنگي چارو مدیر په همږغۍ تمثیلي ښــاروالیو ته په ښــوونځیو او مدارسو کې د کښېنولو په موخه ورکړې. د یادونې وړ د چې لښکرگاه ښاروالۍ روان کال په ښار کې ۲۲ نیم زره نیالگي کښېنول.



هلمند 81

پروژه کانکریت‌ریزی جویچه‌های داخلی شهر ولسوالی نهرین ولایت بغلان با استفاده از مارک ۲۰۰، از بودجه انکشافی شــاروالی و تحت نظارت تیم‌های تخنیکی در حال تطبیق اســت. این پروژه با هدف مدیریت آب‌های سطحی، جلوگیری از تخریب جاده‌ها و بهبود پاکیزگی شــهری اجرا می‌شود و با تکمیل آن، مشکلات ناشی از تجمع آب‌های اضافی به‌صورت اساسی برطرف میگردد.



بغلان ۸۲

د کونړ اسعداباد ښــاروالۍ د نانوایانو د صنف فعالیتونه وڅارل. کمزوري یا نیمگړې نانوایي ته سپارښتنې ورکړل شــوې، او ښــاریان کولای شي د کم وزن ډوډۍ راپور ورکړي ترڅو قانوني اقدامات وشي. ښاریان کولی شي د کم وزن ډوډۍ په اړه معلومات شریک کړي.



کونړ ۸۳

د غزني ښــاروالۍ له لوري په بازارونو کې پراخې څارنې ترسره شــوې؛ د نېټې تېر توکي راټول او هټۍوالو ته د ســمون او اصلاح لازمــې لارښــوونې ورکړل شــوې.
مسؤولین وایي، د ښاریانو د روغتیا لپاره به دا بهیر دوام ولري او له هټیوالو غوښتل کېږي چې له اصولو سره سم عمل وکړي.



غزني ۸۴

د نورستان پوهنتون رئیس حمیدالله عابد د نورستان ولایت پارون ښاروال سره د گډو همکاریو په موخه د نوموړي په کاري دفتر کې مشورتي ناسته ترسره کړه.

په یاده ناسته کې دواړو مسؤولینو په دوه اړخیزو مسایلو او موضوعاتو باندې مفصلې خبرې اترې وکړې.

همدا راز په ناسته کې د پوهنتون رئیس د ښاروال څخه د محصلینو د لیلیې لپاره د کرایه کړې د ښاروالۍ ودانۍ د ځینو برخو د ترمیم چارو د ترسره کولو غوښتنه وکړه ترڅو محصلین وکولای شي په ارامه فضاء کې ژوند او ښه مطالعه ترسره کړي، چې ښاروال ورته د هر همکارۍ ډاډ ورکړ.

نورستان ۸۵

د هرات ښار درنو ښاریانو!
هر نیالگی چې نن کېنول شي، که یې سمه ساتنه وشي، ســبا به ترې یوه شنه او ســیوری ورکوونکې ونه جوړه شي. راځــئ چې په دې زرغونتیا کې برخه واخلو، تر څو یو ښکلی او زرغون هرات ولرو.



هرات ۸۶

شــاروالی نهرین فعالیت هایــی را در عرصه کانکریت ریــزی سرک‌هــا، بهبــود جوی‌ها و مدیریــت آب‌های سطحی، برنامه‌های منظم پاک‌کاری سرک‌ها، جمع‌آوری زباله‌ها و سرسبزی ساحات شهری انجام داده است و همچنان امــور کاری مطابق اصــول و طرزالعمل‌ها و با هماهنگی لازم میــان بخش‌های مختلــف پیش رفته است.



بغلان ۸۷

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه



## شاروال کندز بر کیفیت و سرعت پروژه‌های انکشافی تأکید کرد


کندز ۸۸

قاری گل‌نبی انس، شاروال کندز از جریان کار چندین پروژه انکشافی در سطح این شهر بازدید کرد و روند اجراآت آن‌ها را از نزدیک ارزیابی نمود.

در این بازدید پروژه‌های کانکریت‌ریزی ۱۱ کوچه در شهرک قهوه خانه، ساخت پلچک‌ها و هموارکاری سرک ابراهیم‌خیل و اعمار بلاک رهایشی و تجارتی در ملکیت شاروالی کندز مورد بررسی قرار گرفت.

شاروال کندز با تأکید بر اهمیت کیفیت و تسریع روند کار به مسئوولان و شرکت‌های قراردادی هدایت داد تا پروژه‌ها را مطابق با اسناد تخنیکی و در زمان معین به‌گونه معیاری تکمیل نمایند.

وی همچنان به‌منظور بهبود هماهنگی و انسجام امور نظریات و رهنمودهای لازم را ارائه کرد و خاطرنشان ساخت که نظارت دوامدار از پروژه‌ها در روز و شب ادامه خواهد داشت.

**د پل‌علم ښاروالۍ له لوري په ښار کې د کوڅه ډبو، ناروغو او مزاحمو سپیو د راټولولو لړۍ دوام لري**

**دغه لړۍ د ښار په بېلا بېلو برخو کې د ښار پاکوالي او د ښاریانو د روغتیا د خوندیتوب په موخه پیل شوې او په چټکۍ سره روانه ده.**

**د یادونې وړ ده، چې دا لړۍ به د یو منظم پلان له مخې تر هغه دوام ولري تر څو ښار له کوڅه ډبو او ناروغو سپیو پاک او د ښاریانو لپاره خوندي شي.**


لوگر ۸۹

**د هلمند گرشك ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریت له لوري د وروستیو اورښتونو له امله د گرشك د زاړه محبس لاندې ساحه کې ډنډ اوبو ته په وخت رسېدنه وشوه او د عامو وگړو ستونزې تر یو بریده حل شوې دي.**


هلمند ۹۰

## د کندز ښاروالۍ لخوا په ابدان دښته کې یو ستر ښارگوټی جوړېږي


کندز ۹۱

د کندز ښار د ابادۍ او پراختیا په دوام، د کندز ولایت په ابدان دښته کې په ۱۱۰۰ جریبه ځمکه کې د ۳۰۰۰ استوگنځیو واحدونو یو معیاري ښارگوټی جوړېږي. دا ښارگوټی چې د کور او ښارجوړونې وزارت لخوا یې پلان هم منظور شوی، د کندز ښاروالۍ د رهبرۍ د پرله‌پسې هڅو او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی د ۶۷۰۱/۱۷۵۰ گڼې حکم پر بنسټ، په رسمي ډول کندز ښاروالۍ ته ولېږدول شو.

د کندز ښاروال چې د یو لوی پراختیایي پلان په اړه کې په ابدان دښته کې د یوه عصري استوگنیز ښارگوټي جوړولو پخلی کوي وایي؛ د دې پروژې د پلي کېدو موخه هېوادوالو ته د معیاري سرپناه برابرول، د کورونو د کمښت ستونزې هوارول او په کندز کې د ښاري ودې او پرمختگ بولې.

د یادونې وړ ده چې د دغه ښارگوټي د وېش او جوړولو چارې به په بشپړې روڼتیا، د تخنیکي معیارونو په پام کې نیولو او د عصري ښار جوړونې له اصولو سره سم پر مخ یوړل شي.

**تورخم ښاروالۍ د مارکېټونو تنظیم مدیریت له لوري د ډکې په ساحه کې هغه مارکېټ چې په خپل سر او له رسمي جواز پرته یې جوړولو چارې رواني کړې وې، د ښاروالۍ له لوري یې ودانیزې چارې ودرول شوې.**

**د ښاروالۍ د مسؤولینو په وینا ودانیزو چارو د پیلولو وړاندې له ښاروالۍ څخه رسمي جواز ترلاسه کړي.**


ننگرهار ۹۲

**د فراه ښاروالۍ له لوري د درېیمې ناحیه په مربوطاتو کې هغه غیرقانونې سرای وتړل شو، چې د ښاروالۍ له رسمي جواز پرته یې فعالیت شروع کړی و.**

**دفراه ښاروالۍ له ښاریانو غوښتنه کوي چې له رسمي جواز پرته د هر ډول ودانیز فعالیتونو څخه ډډه وکړي.**

فراه ۹۳

## د مزارشریف ښار په بېلابېلو سیمو کې د گلدانونو او ونو د اړتیا وړ اوبو د تأمین په موخه د شلو څاگانو د کیندنې چارې پیل شوې


بلخ ۹۴

دا اقدام د پراختیایي پروگرامونو په چوکاټ کې د ښاري زرغونتیا د وضعیت د ښه والي، د چاپېریال ساتنې او د ښاریانو لپاره د مناسب چاپېریال د رامنځته کولو په موخه تر لاس لاندې نیول شوی دی.

د تخنیکي مسؤولینو په وینا، دغه څاگانې به د ښار په اړینو او بېلابېلو سیمو کې وکیندل شي او تر بشپړېدو وروسته به د گلدانونو او ونو د خړوبولو سیستم په منظم او اغېزناک ډول تأمین شي. همدارنگه، دا پروژه د سطحي اوبو د مصرف په کمولو او د ځمکې لاندې اوبو د ښه مدیریت په برخه کې مهم رول لري.

**شاروالی نهرین فعالیت هایی را در عرصه کانکریت ریزی سرک‌ها، بهبود جوی‌ها و مدیریت آب‌های سطحی، برنامه‌های منظم پاک‌کاری سرک‌ها، جمع‌آوری زباله‌ها و سرسبزی ساحات شهری انجام داده است و همچنان امور کاری مطابق اصول و طرزالعمل‌ها و با هماهنگی لازم میان بخش‌های مختلف پیش رفته است.**


بغلان ۹۵

**د لښکرگاه ښاروالۍ د مارکیټونو د تنظیم مدیریت له لوري په اوومه ناحیه کې پارک ته پر ځانګړې شوې ځمکه باندې د خپلسریو ودانیزو چارو مخه ونیول شوه.**


هلمند ۹۶

## د مزارشریف ښار کې د ساعت څلورلارې څخه تر امارت سرک پورې د سرک قیرریزۍ چارې په چټکۍ سره روانې دي


بلخ ۹۷

د ساعت څلورلارې څخه تر امارت سړک پورې د قیرریزۍ پروژې چارې، چې د مهمو بنسټیزو پروژو له جملې څخه شمېرل کېږي، د مزارشریف ښاروالۍ له لوري روانې دي. دغه پروژه د مزارشریف ښار په شپږمه ناحیه کې، د شادیان صنعتي پارکونو په ساحه کې موقعیت لري او د ټرانسپورټي وضعیت د ښه‌والي او د ښاریانو د تګ راتګ د اسانتیاوو په برخه کې، په ځانګړې ډول د صنعتي او تجارتي سکتورونو د فعالیتونو لپاره، مهم رول لري.

یاده پروژه شاوخوا ۹۰۰ متره اوږدوالی او ۱۴ متره سور لري، چې پکې د سړک قیر اچونې، د سړک دواړو غاړو ته د کانالونو جوړول، د منځنۍ ګلدانۍ جوړول، د ســړک خط اچونې او د یو معیاري سړک نور تخنیکي جزئیات پکې شامل دي.

د مزارشریف ښــاروالۍ د انجنیرۍ ټیم وایي، چې دغه پروژه د ښاروالۍ د تخنیکي ټیم تر مســتقیم نظارت لاندې او د ټاکل شویو ســاختماني معیارونو په رعایت سره، په ټاکلي وخت کې پلي کېږي، تر څو د پروژې د کیفیت او دوام ډاډ ترلاسه شي.

**د پل‌علم ښاروالۍ له لوري د پل‌علم ښار اړوند د مامورینو ښــارګوټي په سیمې کې د احتمالي سېلابونو د مخنیوي په موخه د سېل‌برونو د مخ اړولو (چپه کولو) چارې ترسره شــوې.د دې چارې موخه د وروســتیو ورښــتونو او د ســېلابونو د خطر د زیاتېدو مخنیوی او د اســتوګنیزو سیمو د زیان مخه نیول دي.**
**درنو ښاریانو د بارانونو پر مهال له احتیاطه کار واخلئ، د اوبو له مســیرونو لیرې پاتې شــئ او د بېړنیو حالاتو پر مهال له اړوندو ادارو سره اړیکه ونیسئ.**


لوګر ۹۸

## خوســت ښــاروالۍ د ۱۴۰۴ کال د فعالیتونــو راپــور وړاندې کړ


خوست ۹۹

خوست ښاروالۍ د ۱۴۰۴ کال د ترسره شوو فعالیتونو د معلوماتو وړاندې کولو غونډه ترسره کړه. د ناســتې په پیل کې د خوست ښــاروال الحاج حافظ عبدالرشــید عمري وویل چې ولس ته حساب ورکول د ښې حکومتولۍ اساسي اصل دی او ښاروالۍ دې اصل ته ژمنه ده. نوموړي زیاته کړه: «چېرته چې حساب وي، هلته عدالت وي او چېرته چې عدالت وي، هلته د ولس رضایت وي». وروســې د ښاري حکومتولۍ، مالي او اداري، او تخنیکي امریتونو مسؤولینو خپل راپورونه وړاندې کړل.

د راپورونو له مخې، د ښاري حکومتولۍ په برخه کې ګڼې اداري ناستې، د مراجعینو ستونزو ته رسېدنه، تفاهم‌لیکونه، فرهنګي او پوهنیز پروګرامونه ترسره شوي دي. په تخنیکي برخه کې نږدې ۳۰ پروژې پلي شوې او شاوخوا ۲۵۰ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راغلی، او د روان کال لپاره هم ورته شمېر پروژې د ۲۹۰ میلیونه افغانیو په ارزښت پلان شوې دي. همداراز، په مالي برخه کې د ښــاروالۍ عواید شاوخوا ۳۴۰ میلیونه افغانۍ ثبت شوي چې د تېر کال په پرتله زیاتوالی ښيي.

## اعلان داوطلبی شاروالی ایبک

ریاست شاروالی شهر ایبک از تمام افراد و اشخاص واجد شرایــط دعوت بعمــل میاورد تا در پروسه داوطلبــی و مزایده یکباب مارکیــت قصابی واقع عقب سرک شفاخانه بازار پایین شهر آیبک از بابت ســال مالی ۱۴۰۵ هجری شمسی اشتراک نموده و از تاریــخ نشر اعلان الــی ۷ روز درخواســتی های خویــش را بعد از طــی مراحل قانونی به ریاســت شاروالی شهر ایبک تسلیم نمایند.

نوت ۱: درخواســتی های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی‌باشد.

نوت ۲: داوطلبان، پول نقد خویش را در روز مجلس داوطلبی باخود داشته باشند.

جهت معلومــات بیشتر به شماره ذیل تماس برقرار نمایید:

۰۷۷۹۱۸۱۷۱٦-۰۷۹۹۱۱۲۹٤٦

سمنگان ولایت

## اعلان داوطلبی شاروالی ایبک

ریاست شاروالی شهر ایبک از تمام افراد و اشخاص واجد شرایــط دعوت بعمــل میاورد تا در پروســه داوطلبــی اجاره دهــی ۱۰ باب دکاکیــن ملکیت خویش جوار مارکیت قصابی واقع بازار پایین شــهر آیبک از بابت ســال مالی ۱٤۰۵ هجری شمســی اشتراک نمــوده و از تاریــخ نشر اعلان الی ۷ روز درخواستی های خویش را بعد از طی مراحل قانونی به ریاست شاروالی شهر ایبک تسلیم نمایند.

نوت ۱: درخواســتی های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

نــوت۲: داوطلبان پول نقد خویش را در روز مجلس داوطلبی باخود داشته باشند.

جهت معلومــات بیشتر به شماره ذیل تماس برقرار نمایید:

۰۷۷۹۱۸۱۷۱٦-۰۷۹۹۱۱۲۹٤٦

سمنگان ولایت

**د هلمند ګرشک ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریت له لوري د نوي بازار په لښتیو کې د خلکو له‌خوا کثافات اچول شــوي وو، یاد لښتي پاک او د اوبو جریان پایښت وموند، عامو وګړو څخه غوښتنه کېږي په لښتیو کې د کثافاتو اچولو څخه ډډه وکړي.**


هلمند ۱۰۱

**مدیریت تنظیف و سرسبزی شاروالی قلعه نو در چند نقطه از شهر، سیلاب داخل خانه های یک تعداد از شهروندان را بوسیله جنراتور پاک کاری و تخلیه نمود.**

بادغیس ۱۰۲

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه



**د ترینکوټ په ښار کې د ۵.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت سړې خونې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې**


ارزګان ۱۰۳

د ۵.۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د وچې مېوې او سبزیجاتو د ساتنې لپاره معیاري سړې خونې پروژه په رسمي ډول ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

دا پروژه د UNDP په مالي ملاتړ او د ترینکوټ ښاروالۍ په تخنیکي همکارۍ د ښار په څلورمه ناحیه کې د وچې مېوې په منډۍ کې جوړه شوې ده. په دې کې ۲۴ لیتیم بیټرۍ، ۸۰ لمریز پینلونه او ۲ عصري سړې خونې شاملې دي چې د ۴۰ کیلوواټه برېښنا ظرفیت لري.

چارواکي وايي، دا پروژه به د کرنیزو محصولاتو د ضایع کېدو مخه ونیسي، سوداګرو ته به اسانتیاوې برابرې کړي، د نرخونو په ثبات کې به مرسته وکړي او نوي کاري فرصتونه به رامنځته کړي. ښاریان هم د ورته نورو پروژو د پلي کېدو غوښتنه کوي.

**د غزني ښار کې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله د شپږمې ناحیې اړوند د کشک سیمه کې تخریب شوی سای بېرته ورغول شو. چارواکي وايي، دا اقدام د اوبو د عادي جریان او د خلکو د ستونزو د ژر حل لپاره مهم ګام دی او ورته هڅې به دوام ولري.**


غزني ۱۰۴

**د هرات ښاروالۍ د سېلابي اوبو د مدیریت لپاره د لویو کانالونو او لښتیو پاکولو چارې شپه او ورځ په پلان سره روانې دي. کارکوونکي له ښاریانو غواړي خپلې خځلې په ټاکل شوو ځایونو کې واچوي ترڅو اوبه د سړکونو پر ځای په کانالونو کې روانې شي.**


غزني ۱۰۵

**محترم ښاروال د لومړۍ ناحیې مدیر ملا عباس ابراهیمي په ملتیا د ګمین کلي له مشرانو سره د همغږۍ ناسته وکړه. په دې ناسته کې پرېکړه وشوه چې ګمین کلی به رسمي توګه د ښاروالۍ اداري چوکاټ ته داخل شي او اوسېدونکو ته به اړین ښاري خدمتنو برابر شي. ښاروال وویل چې د سیمې د خلکو د ستونزو د حل لپاره به د ګذر وکیل هم ټاکل کېږي، څو ټولې ستونزې په منظمه توګه ښاروالۍ ته وړاندې شي. د کلي مشرانو له دې اقدام څخه خوښي وښوده او د ښاروالۍ له پاملرنې یې مننه وکړه.**


لغمان ۱۰۶

**د هلمند ګرشک ښاروالۍ کې د نانوایانو ترمنځ غونډه ترسره شوه. په دې غونډه کې د اسلامي اصولو، د احتکار مخنیوي، ربښتینولۍ او د نظافت پر ارزښتونو ټینګار وشو. نانوایانو ژمنه وکړه چې لاربښوونې به عملي کړي، تر څو سالم او باوري خدمتونه وړاندې کړي.**


هلمند ۱۰۷

**کندهار کې د مصرفوونکو د ملاتړ کمېسیون له لوري د تېرو ٦ میاشتو په ترڅ کې ۸ زره کارټنه درمل او شاوخوا ۲۰ ټنه له نېټې تېر او بې کیفیته خوراکي توکي راټول او د دامان ولسوالۍ په دښتو کې وسوځول شول. چارواکي له سوداګرو غواړي چې د داسې توکو له پلور څخه ډډه وکړي، که نه قانوني چلند به ورسره وشي.**


کندهار ۱۰۸

**د غزني ښاروالۍ د ودانیو د اجازې صادرولو واحد مرکز کې د همغږۍ او د چارو د ښه تنظیم په موخه غونډه ترسره شوه. مسؤولینو وویل چې د نوي تګلارې له مخې متقاضیان کولای شي د ۱۵ کاري ورځو په موده کې خپل جواز ترلاسه کړي. ښاروالۍ ټینګار کوي چې د چټکو، شفافو او معیاري خدمتونو وړاندې کول یې لومړیتوب دی.**


غزني ۱۰۹

**کارکنان مدیریت عمومی تنظیف و سرسبزی شاروالی شهر چاریکار از سرازیر شدن سیلاب‌ها در تعمیر مدیریت ترافیک پروان جلوگیری کردند.**


پروان ۱۱۰

**مهترلام ښار کې د بارانونو او سېلابونو وروسته د ښاروالۍ د تنظیف کارکوونکو په چټک اقدام بندې شوې لارې او ویالې پاکې کړې او عادي حالت ته راوګرځول شوې. ښاروال وايي، د ښار پاکوالي او د ورته ستونزو د مخنیوي هڅې به دوام ولري.**


لغمان ۱۱۱

**شاروالی شهر چاریکار در روزهای بارانی به منظور جلوگیری از وقوع حوادث ناگوار و کاهش خطر سیلاب‌ها، تیم‌های خدماتی به صورت ۲۴ ساعته در مناطق مختلف تشکیل داده است که در صورت بروز مشکلات به ساحات مختلف می‌روند.**


پروان ۱۱۲

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

**د ننګرهار والي د جلال‌اباد ښاروال او یو شمېر مسؤولینو په ملتیا د وروستیو اورښتونو او سېلابونو له امله زیانمنو شویو سیمو څخه لیدنه وکړه. د وضعیت د ارزونې ترڅنګ د عاجلو مرستو د رسولو لپاره ځانګړې کمېټې هم جوړې شوې او اړوندو ادارو ته لازمې سپارښتنې وشوې.**

**بل لور ته، د جلال‌اباد ښاروالۍ رهبرۍ، د ناحیو امرین او شاوخوا ۴۰۰ کارکوونکي د اړینو وسایطو سره د ښار په بېلابېلو سیمو کې د خلکو خدمت ته دوام ورکړی. مسؤولینو ډاډ ورکړی چې زیانمنو شویو کورنیو ته به پر وخت مرسته ورسېږي**


ننګرهار ۱۱۳

**به‌منظور تأمین پاکی و نظافت شهر، حفظ محیط زیست و جلوگیری از آلودگی، زباله‌های جامد از محلات شهرک معلمین و جگره‌خیل واقع ناحیه سوم شهر بامیان توسط کارکنان تنظیف شاروالی بامیان جمع‌آوری و به محل معین انتقال داده شد.**


باميان ۱۱۴

**د تنظیف او زرغونتیا برخې کارکوونکي پخپلو خدماتي چارو بوخت دي**

**د کونړ اسعداباد ښاروالۍ د تنظیف برخې کارکوونکي د مسلسلو هڅو په لړ کې د ښار په بېلابېلو برخو کې په خدماتي چارو بوخت دي، هغه ساحو ته په وخت رسیدګي کېږي، کومو ساحو کې اړې ښاریان د ستونزو سره مخ دي.**


کونړ ۱۱۵

**د جلال‌اباد ښاروالۍ له لوري د ښار په مختلفو ناحیو کې د ۱۴.۶ میلیونو افغانیو په ارزښت د تفریحي پارکونو د جوړولو چارې جریان لري**


جلال اباد ۱۱۶

د جلال‌اباد ښاروالۍ له لوري د ښار په مختلفو ناحیو کې د ۱۴.۶ میلیونو افغانیو په ارزښت د تفریحي پارکونو د جوړولو چارې جریان لري

د تفریحي پارکونو په یادو پروژو کې د پینځمې ناحیې اړوند عبدالحق مېنې او د څلورمې ناحیې اړوند د انعکاس تلویزیون ته څېرمه او د شانزده فامیلیو پارکونه شامل دي.

په یادو پروژو کې د پارکونو پلي لارې، سایه بانونه، د ناستې څوکۍ، د کوچنیانو د لوبو ځایونه او نورې اړینې برخې شاملې دي.

د جلال‌اباد ښار یو شمېر اوسېدونکي د یادو پروژو د کارونو په پرانیستې خوښ دي او د تفریحي پارکونو جوړېدنه د ښاري ښکلا او د سیمې د اوسېدونکو د تفریح په موخه مهمه ګڼي.

**د مزارشریف ښار کې د ښاري پروژو د کار له بهیر څخه د ښاروالۍ د سکتورو او تخنیکي رئیس څارنه**


مزار شريف ۱۱۷

د مزارشریف ښاروالۍ د سکتورو او تخنیکي چارو رئیس، استاد محمد جاوید مایار، د ښار په بېلابېلو سیمو کې د څو پراختیایي پروژو لکه د حاجي ایوب څلورلارې، د غضنفر څلورلارې او د شهید محمد داوود مزمل څلورلارې، د فردوسي څلورلارې، د کامګار څلورلارې په شاوخوا کې د دوو منارونو جوړول، او همدارنګه د روضه مبارک د ختیځ لوري څخه تر فردوسي څلورلارې پورې د ګلدان د عریض‌سازۍ پروژه شاملې دي. استاد مایار وویل د پروژو د چټکتیا او د کیفیت د معیارونو په مراعتولو ټینګار وکړ.

د قراردادي شرکتونو مسؤولینو د لارښوونو هرکلی وکړ او ډاډ یې ورکړ چې پروژې به په ټاکلي وخت او د لوړ کیفیت سره بشپړې کړي. دا څارنه د ښاروالۍ له خوا د ښاري زیربناوو دوامداري څارنې او د ښاري وضعیت د ښه والي لپاره ترسره شوې ده.

**څلورمه ناحیه کې د لویې سیخداري ویالې د سیخ بندۍ، قالب بندۍ او کانکریټ ریزۍ چارې جریان لري**


جلال اباد ۱۱۸

د جلال‌اباد ښاروالۍ د څلورمې ناحیې اړوند تالاشي چوک څخه تر شیشم باغ پمپ پورې د ۱۵،۸ میلیونو افغانیو په ارزښت د ۱۲۱۶ مترو په اوږدوالي او ۱،۳ مترو په پلنوالي سره د لویې سیخداري ویالې سیخ بندۍ، قالب بندۍ او کانکریټ ریزۍ کارونه جریان لري.

د څلورمې ناحیې د انجنیرۍ ټیم د پروژو له کارونو لیدنه وکړه او مسؤولینو ته یې د کارونو د کیفیت، کمیت او سرعت په اړه جدي سپارښتنې وکړې.

د یادې لویې سیخداري ویالې په جوړېدو سره به د دغه مسیر د اورښتونو اوبه په منظم ډول د ښار له داخل څخه بهر او لویو ویالو ته وبهېږي.

**فراه کې د ښاروالۍ له لوري د ویالو جوړولو چارې بیا ځلي پیل شوې**


فراه ۱۱۹

د فراه ښار په اوومه او اتمه ناحیه کې د ښاروالۍ له لوري د اته میلیونه، ۴۹۶ زره او ۸۰۴ افغانیو په ارزښت د دوه زره او ۸۵۵ متره په اوږدوالي د لښتیو جوړولو چارې بیا ځلي پیل شوې.

یاده پروژه، چې د سیلابي اوبو د مهار او منظم مدیریت په موخه پلي کېږي، د اتمې ناحیې اړوند د ننګاب د نبوونځي په کوڅه کې روان دي او په تدریجي ډول سره به نورو برخو ته هم وغځول شي.

باید وویل شي، چې د دغې پروژې له بشپړېدو سره به د ځایي اوسېدونکو شته ستونزې تر ډېره هواري او د عامه ځایونو خوندیتوب به لا هم ټینګ شي.